رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه

# د امام جعفر صادِق

# مبارک عادتونه

**25-January-2024**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په 25 جنورئ کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ مبارک عادتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... مرغۍ راژوندۍ شوې
- ...دروغ د ټولو نه بده بیماري ده
- ... په جنّت کښې یـې کور واخستو
- ... د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ درې عبادتونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: چا چې په **مُحَمَّد** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اهلِ بیتو باندې 100 کرته درودِ پاک اولوستو، **الله** پاک به د هغه 100 حاجتونه پوره کوي.

په **اَهلِ بیتِ پاک** باندې یعنې د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په کور والؤ (مثلاً په پاکو بیبانو او ټول اولادِ اِطهار) باندې د درود لوستلو طریقه دا ده چې مخکښې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې درود عرض کړئ، بیا په دې لړ کښې په **اَهلِ بیت** درود پیش کړئ. مثلاً داسې دُرودِ پاک اولولئ!

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِهٖ وَسَلَّم.

نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو | مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر درود پڑھو
ہزار درد کو یہ ایک دوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر درود پڑھو[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1] ...نورِ ایمان، صفحہ:56تا57ملتقطاً۔



www.dawateislami.net

# د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ښه نیت بنده جنت ته رسوي، د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁عِلمِ دِین به زده کووم ❁ په اَدب به کښینم ❁ نصیحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم په پاک نوم اوریدو به درودِ پاک لولم.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مرغۍ راژوندۍ شوې

یو ځل امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِعلیہ تشریف فرما وو، ډیر خلق هم د هغوئي نه د فیض حاصلولو د پاره د هغوئي په خدمت کښې حاضر وو. هغوئي د **الله** پاک د نبي حضرت ابراهیم علیہِ السّلام ذِکرِ خیر اوکړو او دا واقعه یې بیان کړه چې حضرت ابراهیم علیہِ السّلام په بارګاهِ اِلٰهی کښې عرض اوکړو: اے **الله** پاکه! مَړي به څنګه راژوندي کولے شي، ما ته یې په سترګو اوښایه. **الله** پاک د خپل خلیل علیہِ السّلام درخواست قبول کړو او اوئې فرمائیل:

فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَاْتِيْنَكَ سَعْيًا ؕ (پارہ:3، اَلْبَقَرَۃ:260)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو په مرغو کښې یو څلور مرغۍ اُونیسه بیا هغه ځان سره عادت کړه بیا د هغه ټولو یوه یوه ټُکړه په هر غر باندې کیږده بیا هغوئي را اُوبله نو هغوئي به ستا خوا ته په منډه منډه راشي.

[1] ...بخاری، کتاب بدءالوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔



www.dawateislami.net

د دې واقعې ذِکر کولو نه پس حضرت امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِ علیه اوفرمائيل: که تاسو غواړئ نو زه هم مرغۍ راژوندۍ کړم او تاسو ته يې اوښائيم؟ خلقو عرض اوکړو: آو جي! ضرور اوښايئ! بيا حضرت امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِ علیه يو طاؤس، يو کارغه، يو باز او يوه کونتره اونيوله او د هغو د ذبح کولو او قيمه کولو حکم يې اوفرمائيلو او د هغوئي سرونه يې بيل بيل محفوظ کړل. کله چې د هغه ټولو نه قيمه جوړه کړے شوه او د يو بَل سره ګډه کړے شوه نو هغوئي رحمۃُاللہِ علیه په نمبر نمبر څلور واړو مرغو ته آواز اوکړو: اے طاؤسه! اے کارغه! اے بازه! اے کونترې! داسې به هغوئي آواز ورکولو او د هرې مرغۍ غوښه به په هوا کيدله او د خپل خپل سر سره به يو ځائے کيدله، **دغه شان څلور واړه مرغۍ کومې چې ذبح کړے شوې وې او قيمه ترينه جوړه کړے شوې وه، د حضرت امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِ علیه په کرامت باندې فوراً راژوندۍ شوې.** [(1)]

| | | |
|---|---|---|
| برکتِ امامِ جعفر مرحبا! | عظمتِ امامِ جعفر مرحبا! | مرحبا! |
| شرافتِ امامِ جعفر مرحبا! | صداقتِ امامِ جعفر مرحبا! | مرحبا! |

فيضانِ جعفر صادق! جاری رہے گا!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِ علیه مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہ علیه ❁ د سَيِّدُ الشُّهَدَاء، شهيدِ کربلا امام عالي مقام حضرت امام حُسين رضی اللہ عنه کړوسے دے ❁ هغوئي د دوؤ عظيمُ الشانه صحابهٔ کرامو: حضرت اَنَس بن مالِک او حضرت سهيل

1...شواہد النبوۃ، صفحہ:250 بتغیر قلیل۔

بن سعد رضی اللہ عنہما صحبت موندلے وو، لهٰذا هغوئي **عظيمُ الشَّان تابعي** دے. [1]

✿هغوئي د مور بي بي له طرفه **صِدّيقي** (يعني د مسلمانانو د ورومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدّيق رضی اللہ عنہ اولاد) او د والد صاحب له طرفه **حُسيني سيِّد** دے. [2] ✿ د هغوئي پاک نوم: جعفر، کُنيت: ابو عبد الله او لقب: صادِق دے. [3] **د صادِق معنىٰ ده:** رښتيا ويوونکے. هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به چرې هم دروغ نه وئيل، ځکه د هغوئي لقب صادِق (يعني رښتونے) شو. [4]

صديق کے کرم سے ، ان کا لقب ہے صادِق | فاروق کی عطا ہیں حضرت امامِ جعفر [5]

## دروغ د ټولو نه بده بيماري ده

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** څومره ښکلے شان دے د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ ...!! هغوئي به هميشه رښتيا وئيل، کاش چې مونږ ته هم صرف د رښتياؤ وئيلو توفيق او د دروغو نه نفرت رانصيب شي. افسوس! نن سبا په هره خبره کښې دروغ وئيل عام دي بلکې دروغ په معاشره کښې دومره عام شوي دي چې خلق دروغ وائي او هغوئي ته هډو پته نه وي [چې دا مونږه دروغ وايُو]. **يقين اوکړئ!** دروغ ډيره بده بيماري ده. امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: ✿ د تقوىٰ نه افضل څه زادِ راه (يعني د سفر سامان) نشته ✿ د جهالت نه غټ بَل يو نقصان رسوونکے دښمن نشته او ✿ **د دروغو**

---

[1]...سير اعلام النبلاء، جلد:6، صفحہ:438ملتقطاً۔
[2]...سير اعلام النبلاء، جلد:6، صفحہ:438۔
[3]...شواہد النبوۃ، صفحہ:245۔
[4]...اللباب فی تہذیب الانساب، جلد:2، صفحہ:229مفہوماً۔
[5]...فيضانِ امامِ جعفر، صفحہ:21۔

نه غتېه هيڅ بيماري نشته. [1]

میں جُھوٹ نہ بولوں کبھی گالی نہ نکالوں
اللہ مرض سے تُو گُناہوں کی شِفَا دے [2]

## انسان دروغ وائي تر دې چې...!

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! دروغ واقعي چې ډېره خطرناکه بيماري ده، دا انسان د دوزخ حقدار جوړوي. په حديثِ پاک کښې دي: رښتيا (وئيل په خپل ځان باندې) لازم کړئ، ځکه چې رښتيا د نيکئ په لور بوتلل کوي او نيکي د جنّت لار ښائي. انسان مسلسل رښتيا وائي او د رښتياؤ وئيلو کوشش کوي تر دې چې هغه د **اللہ** پاک په نزد صِدّيق اوليکلے شي او د دروغو [وئيلو] نه ځان ساتئ، ځکه چې دروغ د ګناه په لور بوتلل کوي او ګناه د دوزخ لار ښائي او انسان مسلسل دروغ وائي او د دروغو وئيلو کوشش کوي تر دې چې هغه د **اللہ** پاک په نزد کَذَّاب (يعنې ډېر دروغ ويوونکے) اوليکلے شي. [3]

اَلْاَمَانُ وَالْحَفِیظ! **اللہ** پاک دې مونږ ته د دروغو وئيلو نه د بچ کېدو او هميشه د رښتياؤ وئيلو توفيق رانصيب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم.

بخش دے میری ہر اِک خطا یاخُدا! | فضل سے نیک بندہ بنا یاخُدا!
تُو بنا نیک نیکوں کے صدقے مجھے | اور پابندِ سُنّت بنا یاخُدا!

---

[1] ...حلیۃ الاولیاء، جلد:3، صفحہ:228، رقم:3794۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:115۔
[3] ...مسلم، کتاب البر والصلۃ والاداب، باب قبح الکذب...الخ، صفحہ:1008، حدیث:2607۔



www.dawateislami.net

غیبتوں، چغلیوں، عیب دریوں سے اور | جھوٹ سے بھی مجھے تُو بچا یاخُدا! (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په جنَّت کښې یې کور واخستو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! امام جعفر صادِق رحمۃ اللہ علیہ په اَئِمَّه اهلِ بیت کښې دے هغوئي د خپل وخت ډیر لوئي عالِم مفتي زاهِد متقي پرهیزګاره عبادت ګزاره او ولئ کامِل وو. هغوئي ته د **الله** پاک په بارګاه کښې لوئي مقام حاصِل وو.

په شَوَاهِدُ النُّبُوَّة کښې دي: یو ځل د حضرت امام جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې یو ګس حاضر شو او لس زره دیناره (یعني د سرو زرو اشرفئ) یې هغوئي ته پیش کړې او عرض یې اوکړو: حُضُور! زه حج له ځم. تاسو زما دا رقم سمبال کړئ! او ما له په دې باندې یو کور واخلئ! دا یې اووئیل او هغه ګس حج له روان شو. چې کله واپس راغلے نو دوئي ورته اوفرمائیل: **ما ستا د پاره په جنّت کښې کور اخستے دے.** دا یې اووئیل او یو رسید یې هغه ګس له ورکړو او اوئې فرمائیل: دا واخله! دا ستا د جنّتي کور رسید دے. په دې زبردست عنایت باندې هغه ګس ډیر زیات خوشحاله شو او د خپل جنّتي کور رسید یې واخستو او کور ته لاړو. د خدائے شان وو چې دغه ګس بیمار شو، چې کله د هغه یقین اوشو چې اوس زما ژوندي پاتې کیدل مشکل دي نو هغه وصیت اولیکلو چې د امام جعفر صادِق رحمۃ اللہ علیہ د لاس لیکلے رسید دې زما سره په قبر کښې دفن کړے شي. کله چې هغه ګس وفات شو نو د وصیت مطابق رسید د هغه سره په قبر کښې کیښودے شو. په دویمه ورځ خلقو اولیدل چې

1...وسائلِ فردوس، صفحہ:9، 10 ملتقطاً۔

هغه رسيد د هغه د قبر د پاسه پروت دے او په هغې باندې شاته ليکلے شوي دي: **امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کومه وعده کړې وه هغه پوره شوه (يعنې دې کَس له جنّتي کور ورکړے شوے دے).** [1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| برکتِ امامِ جعفر | مرحبا! مرحبا! | عظمتِ امامِ جعفر | مرحبا! مرحبا! |
| شرافتِ امامِ جعفر | مرحبا! مرحبا! | صداقتِ امامِ جعفر | مرحبا! مرحبا! |
| کرامتِ امامِ جعفر | مرحبا! مرحبا! | سیادتِ امامِ جعفر | مرحبا! مرحبا! |
| فیضانِ جعفر صادق! | | جاری رہے گا! | |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مبارک عادتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير اخلاقي وو ❁ د هغوئي طبيعت مبارک کښې خوش اخلاقي وه ❁ په مبارکو شونډو به يې اکثر مُسکا وه ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به يې دومره ادب کولو چې کله به هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کيدو نو د تعظيم له وجې به يې رنګ زيړ شو ❁ کله به يې هم بے اودسه حديثِ پاک نه بيانولو ❁ په نمونځ او تلاوت کښې به مشغول اوسيدو ❁ د هغوئي خبرې به د فضولو خبرو نه پاکې وې. [2]

## خير خواهي او د غريبانانو مدد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **مبارکو عادتونو**

---

1...شَواهِدُ النُّبُوَّة، صفحه: 251۔

2...شفا، جز: 2، صفحه: 36۔



www.dawateislami.net

کښې يو ښکلے عادت خير خواهي هم ده. په کتابونو کښې ليکلي دي چې هغوئي به په خلقو دومره خوړله چې د کور والؤ د پاره به هم څه نه پاتې کيدل. [1]

## بے موسمه انګور ميلاؤ شول

حضرت لَيث بن سَعد رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: زه يو ځل د حج په ارداه مکے مکرمې ته حاضر شوم. د مازديګر د نـمونځ ادا کولو نه پس د مسجد الحرام سره د نزدې غر **جبلِ اَبُو قُبَيس** په لور روان شوم. ما اوليدل چې هلته يو کَس ناست دے او د **الله** پاک په ذِکر کښې مشغول دے، هغه **يا رَبِّ! يا رَبِّ!** لوستل شروع کړل، مسلسل يې لوستل، تر دې چې د هغه ساه ماته شوه. بيا هغه **يالله! يالله!** لوستل شروع کړل، تر دې چې ساه يې بيا ماته شوه، بيا يې اووئيل: **يا حَيُّ، يا قيّومُ!** تر دې چې د هغه ساه ماته شوه. بيا يې اووئيل: **يا رحمانُ! يا رحمانُ!** تر دې چې د هغه ساه ماته شوه. بيا يې د **يَا اَرحَمَ الرّٰحِمِين** وِرد کولو تر دې چې د هغه ساه ماته شوه. چې کله هغه فارغ شو نو په بارګاهِ الٰهی کښې يې عرض اوکړو: يا **الله** پاکه! د اَنګورو خوړلو خواهش لرم، په ما انګور اوخورې او زما څادر شليدلے دے ما ته نوے څادر راعطا کړې. حضرت لَيث بن سعد رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: په **الله** پاک مې دې قَسم وي! د هغه خبره لا پوره شوې نه وه چې ما يوه شکَرئ اوليده کومه چې د انګورو نه ډکه وه حالانکه په هغه ورځو کښې د انګورو موسم نه وو او ورسره دوه څادرې هم وې. کله چې هغه د خوراک اراده اوکړه نو ما اووئيل: زه هم ستاسو سره شريک يم، کله چې تاسو دعا کوله نو ما آمين وئيلے وو. هغه اووئيل: راځئ! د **الله** پاک نوم واخلئ او اوخورئ او هيڅ څيز به [د ځان د پاره] نه ساتئ. زه ور وړاندې

---

[1] ...حلیۃ الاولیاء، جلد:3، صفحہ:226، رقم:3788۔

شوم او انګور مې خوړل. په هغه انګورو کښې ځړي نه وو او ما داسې خوندور انګور د دې نه مخکښې نه وو خوړلي، ما ښه په مړه خېټه اوخوړل خو د شګړئ نه هيڅ هم کم نه شول. بيا يې ما ته اوفرمائيل: په دې څادرو کښې چې دې کوم خوښ وي واخله. ما اووئيل: زما څادر ته ضرورت نشته. بيا هغه اووئيل: تهٔ د لږ ساعت د پاره ډډې ته شه چې زه دا واغوندم. زه ډډې ته شوم. هغه يو څادر د لنګ په طور استعمال کړو او دويم يې د پاسه واچولو بيا يې خپل ويستلي څادرونه په لاس کښې واخستل او روان شو. زه هم په هغه پسې روان شوم تر دې چې هغه د **صفا او مروه** مقام ته اورسيدو نو د هغه سره يو ګس ميلاؤ شو او اوئې وئيل: **اے د الله پاک د خوږ رسول ځويه!** ما له جامې راکړئ، **الله** کريم! دې تاسو له جامې درکړي. هغه دواړه څادرې يې غوښتونکي ته حواله کړې. ما د هغه ګس نه پوښتنه اوکړه: **الله** دې په تاسو باندې رحم اوکړي، دا څوک دے؟ هغه جواب ورکړو: دا حضرت جعفر بن محمد (يعني امام جعفر صادِق) رحمۃ اللہ علیہ دے. حضرت لَيث رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د دې نه پس ما هغوئي رحمۃ اللہ علیہ ډير اولټولو خو چرته مې هُم اونه موندلو. زه د هغوئي په جدايئ ډير خفه شوم. [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو اوکتل! امام جعفر صادِق رحمۃ اللہ علیہ د **الله** پاک په ورکړے شوو نعمتونو کښې ځان سره نور خلق هُم شريکول، **الله** پاک هغوئي ته د غيبو نه انګور عطا کړل نو هغوئي په هغې کښې بَل ګس هُم شريک کړو، **الله** پاک هغوئي ته د غيبو نه جامې عطا کړې نو هغوئي مخکښنئ جامې غريب ګس ته عطا کړې.

---

1...الروض الفائق، صفحہ: 224۔



www.dawateislami.net

**الله** پاک دې مونږ ته هم توفيق راعطا کړي، مونږ له هم پکار دي چې د **الله** پاک په راکړے شوي مال او دولت او نورو نعمتونو کښې د نورو خلقو د شريکولو عادت جوړ کړو.

## د رَبّ د عطا کړے شوو نه لګوئ!

**الله** پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ يُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّ يَتِيْمًا وَّ اَسِيْرًا ﴿۸﴾ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوْرًا ﴿۹﴾ (پارہ: 29، اَلدَّھر: 7تا9) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغوئي د **الله** په محبت کښې په مسکين او يتيم او قيدي باندې طعام خوري (۸) مونږه خاص د **الله** د رضا د پاره په تاسو طعام خورو. مونږه نه تاسو نه بدل غواړو او نه شکريه (۹) |

يعنې د **الله** پاک هغه نيکان او مقبول بندګان چا ته چې به جنّت عطا کولے شي، کوم چې به د جنّتي چينو نه [اوبه] ښکي، دا به هغه خلق وي کوم چې په دُنيا کښې ❀ د **الله** پاک په محبت کښې په غريبانانو، مسکينانو باندې ډوډۍ خوري او ❀ مخلص دومره وي چې وائي: **مونږه خاص د الله د رضا د پاره په تاسو طعام خورو. مونږه نه تاسو نه بدل غواړو او نه شکريه.**

سُبْحٰنَ الله! **الله** پاک دې مونږ ته هم توفيق عطا کړي چې مونږ هم په نورو باندې ډوډۍ خوړلو والا جوړ شو، **الله** پاک چې کوم نعمتونه راعطا کړي دي، په هغې کښې نور خلق هُم شريک کړو.

## د مړولو ښبولو په فضيلتونو باندې حديثونه

❀ په بارګاهِ رسالت کښې پوښتنه اوشوه: کوم يو اِسلام ښه دے؟ اوئې فرمائيل: **په**

خلقو ډوډۍ خورئ او هر اشنا نا اشنا ګس ته سلام کوئ! [1] ❁ د حضرت عبد الله بن عَمرو رضی اللہ عنہ نه روایت دے، آخري نبي، مکي مَدَني صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمائیلي دي: د رحمان عبادت کوئ! په خلقو ډوډۍ خورئ! او سلام عام کړئ! جنّت ته به په سلامتیا سره داخل شئ. [2] ❁ په یو حدیثِ پاک کښې دي: بے شکه په جنّت کښې داسې بالاخانې دي د کومو بهر والا حصه چې د دننه نه او دننه حصه د بهر نه ښکاري. عرض اوکړے شو: دا به د چا د پاره وي؟ اوئې فرمائیل: څوک چې ښه خبره اوکړي، په خلقو ډوډۍ اوخوروي، همیشه روژې نیسي او هغه وخت قیام کوي (یعنې نـمونځ کوي) چې کله خلق اُوده وي. [3] ❁ د حضرت جابِر رضی اللہ عنہ نه روایت دے، د نبیانو نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمائیلي دي: مِنْ مُوجِبَاتِ الْمَغْفِرَةِ اِطْعَامُ الْمُسْلِمِ السَّغْبَانِ په وَږي مسلمان ډوډۍ خوړل د مغفرت واجب کوونکو اعمالو نه دے. [4]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## امام جعفر صادق او د مرګ یاد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د امام جعفر صادق رحمۃ اللہ علیہ په ښکلو عادتونو کښې دا هم دي چې هغوئي به مرګ په کثرت سره یادولو. د هغوئي مبارک عادت وو چې د شپې به یـې هدیرې ته تشریف وړلو او فرمائیل به یـې! اے قبر والؤ! څه خبره ده؟ زه تاسو سره خبرې کووم او تاسو جواب نه را کوئ...؟ بیا به یـې فرمائیل: افسوس! زما او

---

[1] ...بخاری، کتاب الاستئذان، باب السلام للمعرفۃ وغیر المعرفۃ، صفحہ:1543، حدیث:6236۔
[2] ...ترمذی، کتاب الاطعمۃ، باب ماجاء فی فضل اطعام الطعام، صفحہ:458، حدیث:1855۔
[3] ...ترمذی، کتاب صفۃ الجنۃ، باب ماجاء فی صفۃ غرف الجنۃ، صفحہ:597، حدیث:2527۔
[4] ...مستدرک، جلد:3، صفحہ:372، حدیث:3990۔



www.dawateislami.net

ستاسو په مینځ کښې پرده راغلې ده خو راتلونکې وخت کښې زه هم ستاسو پشان کیدونکے یم. **هغوئې** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **به هم داسې فرمائيل تر دې پورې چې صبح صادق به شو او** هغوئې به د سحر نمونځ د پاره جومات ته تشريف يوړلو. [(1)]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د عبرت او نصيحت د پاره هديرې ته تلل، د قبرونو په ليدلو عبرت حاصلول، د قبرونو په حالاتو غور او فکر کول هم ډېره ښکلې ادا ده. د نيکانو خلقو په ژوند کښې عموماً دا انداز ښکاري چې د اوچتې مرتبې خاوندان به هديرې ته تلل بلکې هديرې ته تلل خو د نبيانو د سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّت مبارک دي. مونږ له هم پکار دي چې وخت په وخت هديرې ته ځو، هلته څه وخت کښينو او په خپل مرګ، د قبر په ژوره کنده، د هغې په تنهايئ او وحشت باندې غور او فِکر کوو. زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **قبرونو ته ګورئ! بے شکه قبرونو ته کتل د دنيا نه بے رغبته کول کوي او آخرت رايادوي.** [(2)]

که اوغواړئ نو په هفته کښې يوه ورځ مقرره کړئ! د څه وخت د پاره هديرې ته ځئ! د هديرې والؤ د پاره دعا او ايصال ثواب کوئ! او لږ وخت کښينئ او د قبر او آخرت په معامله کښې غور او فِکر کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې په برکت به تاسو ته ❀ د **الله** پاک نه ويره نصيب کيږي ❀ زړۀ به مو نرميږي ❀ د ګناهونو د عادت نه به نجات حاصلوئ ❀ په زړۀ کښې به مو د **الله** او رسول محبت زياتيږي ❀ په نيکو باندې به استقامت درنصيب کيږي ❀ او د **الله** پاک په ويره کښې به ژړل درنصيب کيږي.

دِلا غافِل نہ ہو یک دَم یہ دُنیا چھوڑ جانا ہے | بَغیچے چھوڑ کر خالی زمیں اندر سمانا ہے

---

1...احیاء علوم الدین، کتاب ذکر الموت ومابعدہ، الباب السادس...الخ، جلد:4، صفحہ:588۔

2...ابن ماجہ، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی زیارۃ القبور، صفحہ:252، حدیث:1571۔



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| تُو اپنی موت کو مت بھول کر سامان چلنے کا | زمیں کی خاک پر سونا ہے، اینٹوں کا سرہانا ہے |
| عزیزا یاد کر جس دن کہ عزرائیل آئیں گے | نہ جاوے کوئی تیرے سنگ اکیلا تُو نے جانا ہے |
| غُلامؔ اِک دَم نہ کر غفلت حیاتی پر نہ ہو غُرَّہ | خدا کی یاد کر ہر دَم کہ جس نے کام آنا ہے |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک نه ویره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د **الله** پاک نه ډیر ویریدلو. هُم د ماشومتوب مبارک نه یـې دا انداز وو چې هغوئي به د **الله** پاک د ویرې نه ډیر ژړل، رپیدلو به او سلګئ به یـې وهلې، تر دې چې د لیدونکو به ورسره همدردي پیدا شوه. د هغوئي د ماشومتوب شریف واقعه ده، د هغوئي عمر تقریباً شلور کاله وو. یوه ورځ یـې ډیر زیات ژړل، چا ورته د آلِ رَسُول د خِدمت په جذبه کښې عرض اوکړو: شهزاده! څه خبره ده؟ که د څه څیز ضرورت وي نو حکم اوکړئ، چې اوس یـې حاضر کړم. دا یـې چې واوریدل نو د امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ژړا آواز نور هم تیز شو او اوئې فرمائیل: کاکا جانه! د **الله** پاک د غضب او د دوزخ د عذاب د ویرې نه مې زړهٔ ښوئیږي. هغه صاحب په شفقت سره عرض اوکړو: شهزاده! تاسو خو ډیر ماشوم یئ، د اوس نه دومره ویره ولې؟ اطمینان ساتئ! ماشومانو له به عذاب نه ورکولے کیږي. دا یـې چې واوریدل نو د امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د الله پاک نه ویره** نوره هم ښکاره شوه او اوئې وئیل: کاکا جانه! ما لیدلي دي چې د غټو لرګو د بلولو د پاره د هغې نه ګیر چاپیره واړه ډکي کیښودے شي، ډکي زر وور اخلي او د دې په وجه غټ لرګي هم وور واخلي، زه ویریږم چې د اَبُو جهل او اَبُو لـهب په شان د لوئي لوئي کافرانو په دوزخ کښې د سیزولو د

پاره د ورړو ډکو په ځائے چرته زه وور ته اونه غورځولے شم. [1]

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ
میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی!
مرے اشک بہتے رہیں کاش ہر دم
ترے خوف سے یاخُدا یااِلٰہی!
مرے دِل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر
کر اُلفت میں اپنی فنا یااِلٰہی!
بنائے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ
گُناہوں سے ہر دَم بچا یااِلٰہی! [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اللّٰه پاک په ویره کښې د ژړا فضیلتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! غور اوکړئ! امام جعفر صادِق رَحْمَةُاللّٰہِ عَلَیْه په ماشومتوب کښې هم څومره د اللّٰه پاک نه ویره لرله. اللّٰه پاک دې مونږ ته هم د خپلې ویرې نعمت رانصیب کړي، یقینا د اللّٰه پاک نه ویره او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عشق کښې ژړل عظیم الشانه نیکي ده. ❁ په حدیثِ پاک کښې دي: د کوم مؤمن د سترګو نه چې د اللّٰه پاک د ویرې نه اوښکې اوځي اګر که د مچ د سر برابرې وي، بیا هغه اوښکې د هغه د

---

[1]...نیکی کی دعوت، صفحہ:585تا586بتغیر۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:105بتقدم وتاخر۔

مخ ظاهري حصې ته اورسي نو **اللّٰه** پاک هغه په دوزخ باندې حرام کړي.[1]

جی چاہتا ہے پھوٹ کے رووُں ترے ڈر سے | اللّٰہ مگر دِل سے قَساوت نہیں جاتی

✿ رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: د **اللّٰه** پاک څه فرښتې داسې دي د کومو ډېرې چې **د اللّٰه پاک د ویرې نه** رپیږي، د هغوئي د سترګو نه د بهیدونکو اوښکو د څاڅکي نه یوه فرښته پیدا کیږي، کومه چې اودریږي او د خپل **رَبّ** پاکي بیانول شروع کړي.[2]

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ
میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی(3)

✿ د دوارو جهانونو سرکار، مکي مَدَني سردار صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: د **اللّٰه** پاک د ویرې نه ژړیدونکے به هیڅکله هم دوزخ ته نه داخلیږي، تر دې چې پيۍ تي ته واپس لاړ شي.[4]

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃُاللہِ علیہ د دې **حدیثِ پاک** په شرح کښې فرمائي: یعني څنګه چې د لوشلے شوؤ پئیو تیُونو ته واپس کیدل ممکن نه دي هُم داسې د **اللّٰه** پاک د ویرې نه د ژړیدونکي دوزخ ته تلل هم ممکن نه دي.[5]

---

1...شُعَبُ الْاِیْمَان، جلد:1، صفحہ:491، حدیث:802۔
2...شُعَبُ الْاِیْمَان، جلد:1، صفحہ:521، حدیث:914۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔
4...شُعَبُ الْاِیْمَان، جلد:1، صفحہ:490، حدیث:800۔
5...مراٰۃالمناجیح، جلد:5، صفحہ:436بتغیر قلیل۔

قلبِ مُضطَر کی لاج رکھ مولیٰ
یہ صدا میری چشمِ نَم کی ہے[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** څوک چې **د الله پاک د ویرې نه** ژاړي، د هغوئي خو خپل څه ډیر ښکلے شان دے، بلکې د هغوئي په وسیله په نورو هم کَرم کیږي. یو ځل سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم بیان فرمائیلو، د هغوئي ښکلې ښکلې خبرې یې چې واوریدلې نو په حاضرینو کښې یو کَس په ژړا شو، دا یې چې اولیدل نو خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائیل: که نن ستاسو په مینځ کښې هغه ټول مسلمانان موجود وے د کومو ګناهونه چې د غرونو برابر دي نو هغوئي به د دې یو کَس د ژړا په وجه بخښلے شوے وے ځکه چې فرښتو هم د ده سره ژړل او دُعا یې کوله چې: اے الله پاکه! څوک چې په کثرت سره ژاړي، د نه ژړیدونکو په حق کښې د هغوئي شفاعت قبول کړې. [2] حضرت مولانا روم رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي:

هَر کُجا آبِ رَواں غُنچہ بُوَد
هَر کُجا اشکِ رَواں رَحمت بُوَد

**ترجمه:** چې کله د آسمان نه باران راوریږي نو په زمکه باندې غنچې او ګلونه سپړدلے کیږي او چې کله د الله پاک د ویرې نه د چا اوښکې بهیږي نو د رحمت ګلونه سپړدلے کیږي.

جو کہ خوفِ خُدا سے روتا ہو | قابِلِ احترام ہوتا ہے
جو بُرے خاتمے سے ڈرتا ہو | قابِلِ احترام ہوتا ہے

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ: 141۔
[2]...شُعَبُ الِایمان، جلد: 1، صفحہ: 494، حدیث: 810۔



www.dawateislami.net

## د الله پاک په ویره کښې د ژړا طریقې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ له هم پکار دي چې د الله پاک د ویرې نه ژاړو، اوښکې توئیو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ثواب به مو هم کیږي او که الله پاک اوغوښتل نو د دوزخ نه به نجات هم حاصل کړو ❀ یواځې کښینئ ❀ د قبر په حالاتو باندې غور او فِکر کوئ ❀ د قبر تنګ والے ❀ وحشت او تنهائي رایاده کړئ ❀ د رُوح وتلو د سختې او تکلیفونو په باره کښې سوچ اوکړئ ❀ خپل ګناهونه رایاد کړئ ❀ د قیامت په ورځ د الله پاک په بارګاه کښې د حاضرئ منظر په ذهن کښې راولئ ❀ د قیامت د وحشتونو د تصور جوړولو کوشش اوکړئ ❀ د دوزخ عذابونه اولولئ ❀ هغه بیا بیا ذهن ته راولئ ❀ د قرآنِ کریم تلاوت په کثرت سره د کولو عادت جوړ کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د الله پاک د ویرې نه به ژړا درنصیب شي.

تُو ڈر اپنا عنایت کر، رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر
مٹا خوفِ جہاں دِل سے، مٹا دُنیا کا غم مولیٰ![1]

## چې د هغوئي دا حالت دے نو...

د خپل وخت ډیر لوئي عالِم او ولئ کامِل حضرت داؤد طائي رحمۃُ اللہِ علیہ یو ځل د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې عرض اوکړو: عالي جاه! تاسو د اهلِ بیتِ پاک نه یئ (د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم شهزاده یئ)، لهٰذا ما ته څه نصیحت اوفرمایئ! امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ خاموشه پاتې شو نو بیا یې عرض اوکړو: عالي جاه! تاسو د اهلِ بیتِ پاک نه یئ، ما ته څه نصیحت اوفرمایئ! په دې باندې امام جعفر

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:98۔



www.dawateislami.net

صادِق رحمۃُاللہِ علیہ اوفرمائیل: زه خو ېخپله ویرېږم چې که د قیامت په ورځ زما جدِّ اعلیٰ (یعنې محمد مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ) زما لاس اونیسي او دا پوښتنه رانه اوکړي چې تا زما د تابعدارئ حق ولې ادا نه کړو نو زه به څه جواب ورکووم؟ دا یـې چې واوریدل نو حضرت داؤد طائي رحمۃُاللہِ علیہ په ژړا شو چې امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِ علیہ د دومره اوچته مرتبه لرلو باوجود هم ویرېږي نو زه په څه کښې شمیر یم. (1)

**الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د لویو خلقو لوئي خبرې وي...!! امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِ علیہ دومره د اوچتې مرتبې هستي ده، هغوئي د **اهلِ بیتو** نه دے، د خپل وخت ډیر لوئي امام دے، ډیر لوئي عالِم هم دے، ډیر لوئي ولئ کامِل هم دے، د **الله** پاک په بارګاه کښې دومره مقبول دے چې هغوئي دعا اوکړي نو **الله** پاک د هغوئي سوال قبلوي، د دې باوجود د هغوئي د عاجزئ دا حال دے چې ویرېږي، د قیامت په ورځ د **الله** پاک او د رسولِ خدا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په خدمت کښې د حاضرئ ویره په زړۀ کښې لري. کاش چې زمونږه هم دا ویره نصیب شي...!!

آه! مونږ خو هیڅ نه یو...!! شپه ورځ په ګناهونو کښې مشغول یو، ورځ مو په لوبو کښې تیره شي، د شپې د غفلت په خوب اوده اوشو، د نیکو هډو نوم هُم راسره نشته، د دې باوجود مونږه نه ویرېږو، ویره نه لرو، د قیامت په ورځ به د **الله** پاک په بارګاه کښې حاضریږو ، د یو یو ساعت حساب به رانه اخستے شي...!! آه! څنګه به جواب ورکوو؟

| | |
|---|---|
| ہو عرصۂ محشر میں مرا چاک نہ پردہ | للہ مجھے دامنِ رحمت میں چھپانا |
| محشر میں حساب آہ! میں دے ہی نہ سکوں گا | رحمت نہ ہوئی، ہو گا جہنّم میں ٹھکانا(2) |

1...تذکرۃالاولیاء، جلد:1، صفحہ:21بتغیر قلیل۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:354۔



www.dawateislami.net

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دوؤ جنّتونو حقدار

په روايتونو کښې دي: د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د قيامت په باره کښې غور او فِکر کولو، هغوئي د آسمان د راغونډيدلو، د غرونو د بيخ نه د وتلو (په هوا کښې د مالوچو په شان د الوتلو)، د ستورو د رژيدو او د نمر د تيارۀ کيدو په باره کښې غور اوکړو. بيا هغوئي د جنّت او دوزخ او د ميزانِ عمل په باره کښې غور او فِکر شروع کړو، په دې غور کولو کښې په هغوئي باندې **د اللّٰه پاک ويره** غالبه شوه او هغوئي د ډير غم نه اوفرمائيل: کاش چې زه څه شينکے وے، او څاروو خوړلے وے...!! کاش چې زه هډو پيدا شوے نه وے. په دې باندې دا آيت مبارک نازل شو، **اللّٰه** پاک اوفرمائيل: [1]

وَلِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ۚ﴿۴۶﴾
(پاره:27، الرّحمٰن:46)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: او څوک چې د خپل **رب** په دربار کښې د اودريدلو نه ويريږي د هغه د پاره دوه جَنَّتونه دي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا څومره ښکلے انداز دے...!! څومره ښکلې جزاء ده. څوک چې د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې د حاضرئ نه ويريږي، د هغه د پاره **دوه جنّتونه** دي. کاش چې زمونږه هم دا ويره نصيب شي. مونږ هم د قيامت وحشتناک مناظر په خيال کښې راولو، د محشر ميدان، د عمل [تللو] ميزان [يعني تله]، جنّت، دوزخ او پل صراط وغيره رایاد کړو، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! **د اللّٰه پاک نه ويره** رانصيب

---

[1]... تفسیر در منثور، پارہ:27، الرحمٰن، تحت الآیۃ:46، جلد:7، صفحہ:706۔



www.dawateislami.net

کیږي او که الله پاک اوغوښتل نو مونږه به هم د دوؤ جنّتونو حقدار جوړ شو.

تیرے ڈر سے سدا تھر تھراؤں | خوف سے تیرے آنسو بہاؤں
کیف ایسا دے، ایسی ادا کی | میرے مولیٰ تُو خیرات دیدے[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ درې عبادتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ولې چې امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ د الله پاک نه ویره لرونکے وو، لهٰذا هغوئي به وخت نه ضائع کولو، خپل اکثر بلکې ټول وخت به یې په نیکو کښې تیرولو. امام مالک رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: زه د ډیرې مودې پورې د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې حاضر شوے یم، ما به همیشه هغوئي په دریو عبادتونو کښې په یو عبادت کښې مشغول لیدلو (1): یا خو به هغوئي په نمونځ ولاړ وو (2): یا به یې روژه وه (3): یا به د قرآنِ پاک په تلاوت کښې مشغول وو.[2]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د امام جعفر صادِق رحمۃُ اللہِ علیہ ...!! هغوئي به د وخت څومره قدر کولو. آه! یو مونږ یو چې په فضولیاتو کښې اخته اوسو، موبائل، سوشل میډیا، فیس بُک، هوټلنګ، د دوستانو سره فضول ګپ شپ وغیره پته نه لګي زمونږ کوم کوم فضول مصروفیات وي. الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم اوکړي، کوشش کول پکار دي چې زمونږه زیات وخت په نیکو کښې تیر شي.

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:128۔
[2]...شفا، جزء:2، صفحہ:36۔



www.dawateislami.net

## دنیائي فِکرونه پريږده! د آخرت د پاره فارغ شه!

د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ نه روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلّم د پينځه ويشتمې سيپارې سورۀ شُوریٰ د دې آيت تلاوت اوفرمائيلو:

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ۝۲۰
(پارہ:25، الشوریٰ:20)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ الْعِرفان:: څوک چې د آخرت فصل غواړي نو مونږه د هغه د پاره د هغه په فصل کښې اضافه کوو، او څوک چې د دنيا فصل غواړي نو مونږه هغه ته د دې نه څه ورکوو او په آخرت کښې د هغه هيڅ حصّه نشته.

بيا يې اوفرمائيل: الله پاک فرمائي: اے ابنِ آدم! (دنيائي فکرونه پريږده او) د عبادت د پاره فارغ شه! ستا سينه به د مالدارئ نه ډکه کړے شي او که تۀ داسې نه کوې (مثلاً په دنيائي فِکرونو کښې اخته اوسې، صِرف د دنيا د مستقبل سوچونه کوې) نو ستا زړۀ به د مصروفياتو (مثلاً د دنيائي مشغوليلياتو) نه ډک کړے شي. [1]

## په دنيائي فِکرونو کښې اوسيدل د هلاکت سبب دے

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مَسعُود رضی اللہ عنہ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلّم فرمائيلي دي: چا چې خپل ټول فِکرونه صرف **يو فِکر** يعني **د آخرت فِکر** جوړ کړو نو الله پاک د هغه د دنيا د فِکر د پاره کافي دے او د چا فِکرونه چې د دُنيا په حالاتو کښې مشغوله اوسي نو الله پاک ته به د دې پروا نه وي چې

[1]...مستدرک، جلد:3، صفحہ:234، حدیث:3709



www.dawateislami.net

هغه په کومه کنده کښې هلاکيږي. [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د غور مقام دے! خو مونږ په هُم دې فکرونو کښې اخته يُو چې څه به خورو؟ څه به اغوندو؟ سحر خو مو اوخوړله، د ماښام [خوراک] به د چرته نه راځي؟ بوډا والے به مو څنګه تيريږي؟ د بچو مستقبل به مو څنګه وي؟ يو کاروبار خو مې روان شوے دے، اوس به بَل څنګه روانيږي؟ د يو ځائے نه خو ښه آمدن راځي، د آمدن نورې ذريعې به څنګه جوړې کړے شي؟ کاڼړے، محَل، بنګله به راته څنګه ميلاويږي؟ کاش چې زه په لږ وخت کښې مالدار شم وغيره وغيره [داسې نور] په زرګاؤ قِسمه فِکرونه مونږ په زړۀ کښې ساتو، په هُم دې فِکرونو کښې مو ورځې او شپې تيريږي او ژوند مو روان دے ختميږي. زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو دا فرمائي چې کوم بنده داسې فِکرونه پريږدي، صرف يو فِکر **د آخرت فِکر** اختيار کړي چې ما ته په قبر کښې، په حشر کښې، په پل صراط باندې کاميابي حاصلول دي، جنّت ته تلل دي، **الله** پاک راضي کول دي، دا به څنګه کووم؟ دا يو فِکر اختيار کړي نو **الله** پاک به د هغه د ټولو فِکرونو د پاره کافي شي او کوم بنده چې دا يو فِکر اختيار نکړي بلکې صرف دنيائي فِکرونه کوي نو **الله** پاک هيڅ پروا نه لري چې هغه په کومه کنده کښې هلاکيږي.

کاش چې زمونږه **د آخرت فِکر** نصيب شي. که دا فِکر نصيب شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د زياتو نيکو کارونو کولو توفيق او په عبادت باندې به استقامت هم نصيب شي.

غَمِ روزگار میں تو مرے اشک بہہ رہے ہیں | ترا غم اگر رُلاتا تو کچھ اور بات ہوتی
نہ فُضول کاش! ہنستا، تری یاد میں تڑپتا | مجھے چَین ہی نہ آتا تو کچھ اور بات ہوتی

---

[1] ...ابنِ ماجہ، کتاب الزہد، صفحہ:668، حدیث:4106۔



www.dawateislami.net

یہی آہ! فکرِ دُنیا مِرا دِل جَلا رہی ہے | غَمِ ہجر گر ستاتا تو کچھ اور بات ہوتی[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د امام جعفر صادِق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نصیحتونه

حضرت سُفیان ثَوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ حضرت امام جعفر صادِق رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته عرض اوکړو: زه به تر هٔغه وخته پورې نه پاځم تر څو چې تاسو ما ته څه **نصیحت** اونه فرمايئ. هغوئ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائیل: اے سفیان! زه ستاسو سره خبرې کووم خو ډیرې خبرې ستاسو د پاره ښې نه دي **(درې خبرې يادې ساته او په دې باندې عمل اوکړه)**: **(1)**: **الله** پاک چې تا ته څه نعمت عطا کړي او ته په هغې باندې همیش والے غواړې نو په هغې د هغه ډير شُکر ادا کوه ځکه چې **الله** پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ (پاره:13، اِبراہیم:7) | [مفهوم]ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: که تاسو زما شکر ادا کوئ نو زه به تاسو ته نور زيات عطا کووم. |

**(2)**: که تهٔ په رزق کښې تاخير محسوس کړې نو د استغفار كثرت کوه (مثلاً په کثرت سره اَستَغفِرُ الله! اَستَغفِرُ الله! لوله!) چې **الله** پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۙ﴿۱۰﴾ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّ يُمْدِدْكُمْ | [مفهوم]ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: (اے خلقو!) د خپل **رب** نه بخښنه اوغواړئ، بيشکه هغه ډير معاف کوونکے دے(۱۰) هغه به په تاسو په شيبو وريدونکے باران راوليږي(۱۱) |

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:384۔



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| بِاَمۡوَالٍ وَّبَنِیۡنَ وَیَجۡعَلۡ لَّکُمۡ جَنّٰتٍ وَّیَجۡعَلۡ لَّکُمۡ اَنۡهٰرًا ﴿۱۲﴾ (پاره:29، نُوح:10تا12) | او د مالونو او ځامنو په ذریعه به ستاسو مدد اوکړي او تاسو لره به باغونه جوړ کړي او ستاسو د پاره به نهرونه جوړ کړي (۱۲) |

**(3)**: اے سفیان! که تا ته د غم او تکلیف رسیدو اندیښنه وي یا څه پریشاني درپیښه شي نو د لَاحَوۡلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللّٰه کثرت کوه چې دا د خوشحالئ چابي او د جنّت په خزانو کښې یوه خزانه ده.

## د بیان خُلاصه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د امام جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د ذِکرِ خیر اوریدو سعادت حاصل کړو. هغوئي زمونږه پیشوا دے، زمونږه امام دے، لهٰذامونږ له پکار دي چې د هغوئي د پاک سیرت نه رڼا واخلو او خپل اخلاق او کردار ښه کړو، د هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه په شان د پاکو عادتونو اختیارولو کوشش اوکړو. مثلاً مونږه واوریدل چې ❁ د امام جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه اخلاق ډیر ښه وو، مونږ له هم د ښو اخلاقو والا جوړیدل پکار دي ❁ امام جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه به اکثر مُسکے اوسیدلو، مونږ له هم مُسکي اوسیدل پکار دي ❁ امام جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د غریبانانو خیر خواهي کوونکے وو، مونږ له هم د غریبانانو، مسکینانو، یتیمانانو بے وسو په کار راتلل پکار دي ❁ امام جعفر صادق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه په اوړو ډوډئ خوړله، مونږ له هُم په اوړو ډوډئ خوړل پکار دي ❁ امام جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د فضولیاتو نه بچ کیدونکے وو، په کثرت سره عبادت کوونکے وو، د **اللّٰه** پاک نه ویریدونکے وو، د **اللّٰه** پاک د ویرې نه به یې ژړل، هدیرې ته به تللو او عبرت به یې حاصلولو. مونږ له هم دا ښکلي ښه ښه

اخلاق اختیارول پکار دي. **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم .

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په پینځلسم رَجَبُ الْمُرَجَّب یومِ اِمام جعفر صادِق رحمۃُاللہِعلیہ دے. په دې موقع باندې ډیر ډیر ایصالِ ثواب اوکړئ! په کور کښې **محفل** راجوړ کړئ! د مکـتبة الـمدینه رساله ده: **فیضانِ امام جعفر صادِق** رحمۃُاللہِعلیہ . دا رساله حاصله کړئ! که اوغواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه یې ډاؤن لوډ کړئ! کور والا راجمع کړئ او دا رساله ورته اولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! برکتونه به درنصیب شي.

د یومِ امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِعلیہ په موقع باندې د کُونډو ختم کول په مسلمانانو کښې رائج دے. دا هم ډیر ښه عمل دے. د کُونډو ختم هم ایصالِ ثواب دے او ایصالِ ثواب کول د قرآن او حدیث نه ثابت دے بلکې د صحابۀ کرامو علیهم الرّضوان سُنّت دے. د دې ډیر برکتونه دي. لهٰذا د کونډو ختم هم اوکړئ! او د امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِعلیہ د ذِکر برکتونه هم حاصل کړئ!

**الله** پاک دې مونږ ته د امام جعفر صادِق رحمۃُاللہِعلیہ فیضان رانصیب کړي او د هغوئي په پاک سیرت باندې د عمل کولو توفیق دې راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم .

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مَدَني کورسز

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک **دعوتِ اِسلامي** د عِلمِ دین نُور خپرونکے تحریک دے. کوم چې په مسلمانانو کښې په عِلمِ دِین عام کولو کښې مصروف دے. د دعوتِ اِسلامي دا کوشش دے چې مسلمانان کم

از کم فرض عِلمِ دِين لکه د اودس، غسل، نـمونځ، روژې، زکوٰة وغيره ضروري مسئلې زده کړي. تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! په 12 ديني کارونو کښې هم پوره پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره برکتونه به درنصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مَدَني کورسز** هم دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د خارنې لاندې ډير **شارټ کورسز** کولے شي مثلاً ❀ د اووه ورځو فيضانِ نماز کورس ❀ د اووه ورځو د دولسو ديني کارونو کورس ❀ د اووه ورځو اِصلاحِ اَعمَال کورس وغيره. ❀ **په دې مَدَني کار کښې د شرکت سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** ډير برکتونه حاصل شي ❀ چې دِين زده کړئ نو **اللّٰه** پاک به راضي شي ❀ په رزق کښې به مو برکت اوشي ❀ د عِلمِ دِين خزانه به حاصله کړئ ❀ د نيکو ذِهن به مو جوړ شي ❀ د **اللّٰه** پاک عبادت به په صحيح انداز کولے شئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! کرم به هُم کيږي ❀ بيا به ديني ماحول هم درنصيب شي ❀ د نيکانو خلقو صحبت به درنصيب شي، د دې خپل برکتونه دي.

## د دوؤ ورونړو د اِصلاح راز

د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: ديني ماحول ته د راتلو نه وړاندې زه په قِسما قِسم ګناهونو کښې اخته ووم، زما بخت څه داسې رابيدار شو چې زما مشر ورور د اِسلامي ورونړو د نيکئ په دعوت باندې د **63 ورځو مَدَني تربيتي کورس** کښې داخله واخسته. د **تربيتي کورس** کولو نه پس چې کله زما ورور کور ته تشريف راوړو، ټول کور والؤ چې دا اوليدل نو ډير حيران پاتې شول چې هغه بالکل بدل شوے وو، د سنّتو مطابق جامې، په سر يـې عمامه شريفه وه. زه د هغه د اخلاقو او کردار نه ډير متاثره



www.dawateislami.net

شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما ورور ما له هم د نيکۍ دعوت راکړو يوه ورځ يې زه هم د ځان سره هفته وارې د سنّتو ډکې اجتماع ته بوتلم. د ورور جان په پوهه کولو باندې ما هم **د 63 ورځو په مَدَني تربيتي کورس** کښې داخله واخسته، په کوم کښې چې د شريعت د بے شميره مسئلو، د سنتو او دعاګانو زده کولو موقع ميلاؤ شوه. په ما باندې د کريم **رَبّ** ډير احسان دے چا چې ما ته د خپل حبيب صلی اللہ علیہ وآلہٖ وسلم په وسيله د دعوتِ اِسلامي ښکلے ښکلے ديني ماحول راعطا کړو. (1)

| | |
|---|---|
| عطائے حبیبِ خدا دِینی ماحول | ہے فیضانِ غوث و رضا دِینی ماحول |
| اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ | تم آجاؤ دیگا سکھا دِینی ماحول (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ القُرآن موبائل ايپلي کيشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! **د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي** آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د مَعرِفَةُ القُرآن جاري کړے دے. تاسو د دې ايپلي کيشن په ذريعه ❁ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ❁ په دې ايپلي کيشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کوم په مدد چې د خپلې موضوع مطابق قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ. خصوصاً مبلغ اِسلامي ورونړه د دې آپشن نه مدد اخستے شي ❁ په دې ايپلي کيشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم په مدد چې آيتونه لټولو کښې آساني پيدا کيږي ❁ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن

---

1…بریک ڈانسر کیسے سدھرا، صفحہ:10تا12۔

2…وسائلِ بخشش، صفحہ:646۔

هم پکښې موجود دے. تاسو هم دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت دي

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1)**:څوک چې وعده نه پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته. [2] **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي اوکړي په هغه باندې د **الله** پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے. [3]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبيا دي ❁ زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپله وعده کلک ولاړ

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2... مصنف ابنِ اَبی شیبہ، کتاب:الایمان، جلد:7 صفحہ:223۔
3...بخاری، کتاب: جزیہ، صفحہ:815، حدیث:3179۔

وو او ❁وعده ماتول به يې نه خوښول ❁ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو اودرېږئ! زه دا دے اوس راځم، هغه کَس لاړے خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغه ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدلو باوجود هم په هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَ الله! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې اوګورئ! چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه کَس اونه رټلو، نه ورته غصه شولو، بس دومره يې اوفرمائيل: اے سړيه! تا زه په مشقت کښې واچولم. [(1)] الله پاک دې مونږ هم په سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوېې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

1...اَبُوداوٗد، کتاب ادب، باب فی العدۃ، صفحہ: 781، حدیث: 4996۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصاً



www.dawateislami.net

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْه تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹



www.dawateislami.net

کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترہيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

4... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵